مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اجمل غروال ۲۰۱۸/۱۱/۲۳

# عسکری جزوتامونو(گارنیزونو) کی
# د ننه پر سرتيرو بريدونه د فساد پایله بولم


ښاغلی اجمل غروال

د سرتيرو جلب و جذب ښخه وروسته تعليمی مرکزونو کی کشف او استخباراتو ضد مديريتونه د سرتيرو د پيژندني او د دوي په اړه مالوماتو جمع کولو مسوليت لري.
د عسکری تعليم مودی ښخه وروسته بيا د جزوتام دننه همدا پورته ياد شوي اداري او د قطعی رهبری مسوول دي چی د دښمن نفوذی افراد وپيژنی او له پينو يی وغورځوي خو متأسفانه ځينی قوماندانان او آمرين په فساد کی ککړ دي حتی د ځينو نيولو حکم ورکړل شوی خو عدلی او قضايی ادارو ناغيری او پوځ کی مافيايی کړيو سره اړيکو په اساس دا کسان پر خپلو دندو پاتي دي او محاکمو کی د ځواب ورکولو ښخه محفوظ پاتی شوي.

د خوست نن ورځی پيښی په اړه مې د ځينو دوستانو ليکني او د رسنيو خبرونه تعقيب کړل ځينو خو پر ولسمشر نيوکه کړي وه چی ولی يی ځانمرگی ندی نيولی. وه برادره ولسمشر دی د قطعی قوماندان يا د کشف آمر ندی بس همدی ته تيار ناست يو چی چيری د زړه براس وباسو اصلی تکي له پامه غورځو.

د خوست لومری لوا ته تر رسيدو د خوست پکتيا سرک له غاړی څلورو کيلومترو پوری د پوځی پوليسو، گارنيزيون او مختلفو جزوتامونو د امنيتی پوستو تلاشی (چک پواينتونه) مستقر دي څو شيبی مخکی رسنيو او خبرياالانو همدا ويل: »مونږ ته سوال پيدا شوی چی ښنگه ځانمرگی گارنيزيون ته داخل شوی.«
نه! داسی ندی چی ځانمرگی دی له دغو پوستو تير او گارنيزيون ته داخل شوی وی په دا ډول دعوا د يو مفسد افسر پر ځای موږ د ډيرو سرتيرو سپيڅلتوب تر پوښتنی لاندی راولو او زموږ دا کرنه د سرتيرو پر مورال بده اغيزه کولی شي بيا وايم د ځينو مفسدو آمرينو له برکته د دښمن نفوذی افراد جزوتامونو داخل کی شتون لري او د داسی پيښو شاهدان به بيا وو.



راځی د عقدی او يا درد له مخی پر حکومت له نيوکو تير شو او مرسته ورسره وکړو تر څو د مفسدو قوماندانانو مخه ونيسو تر څو بيا راتلونکی کی داسی خونړی پيښي تکرار نشی، ځيني دوستان به راته وايی دا خو د حکومت کار دی او زموږ مرسته څه مانا، راځی د نړي ډيرو ولسونو پشان خپله وطنی دنده اجرا کړو(دخلکو زور د خدای زور) راځی هر گوډ کی چيغه پورته کړو او حکومت ته ووايو: د نيولو حکم دی ورکړی ولی څارنوالی يا عدلی او قضايی مرکز دی متهم باندی محکمی جلسه نه دايره وی، که د متهم په غياب کی هم قاضی فيصله وکړی بيا يی زه نر بولم چی دی دفتر ته حاضر شی هغه نور ختم دی مړ دی.

راځی موږ تاسی هر يو د خدای_وطن_دنده شعار خپل کړو او لکه سرتيری د مفسدينو وړاندی ودريږو.

خوست ته د هوايی ځواک چورلکی رسيدلي ټپيان اوس د سردار داود خان پوځی روغتون کی تر درملنې لاندی دي

د شهيدانو ياد دې تلپاتي وي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ